# دوطن حالات

میکده شو دړی وړي سا قي لاړ فراري شو
د مطرب ربا ب شو ما ت دزاهد چي واکمني شو
پیغلو سپین توره کا کل کړ غمخانه خپل ګوګل کړ
اوښکي وچ د میندو نشو داشرارچي واکداري شو
هرناکس او هرمفسد دقد رت په مقا م کیښینا ست
له هغه وخته چي د ین له یوسره سیا سي شو
برخه لیک د وطنپا لو د بر برو په لاس ولوید
د قا نون نظم شووران د جنګل قانون جاری شو
د حریت او عد ا لت غبږ په ستونو کي خپه شو
د جا سوسو دوران راغي مجاهد پا کستا ني شو
د ما تم تېغر شو خپور د ا فغا ن په ښا ر او کلي
له هغه وخته چي حملي سر په سر انتحا ری شو
دولتی واکمنا نو د بی وزلو آ واز نه اوري
د دولت هره څوکي په ډا لرو سرقفلی شو
همغه وحشی اشرار اوس قا ضی او وزیر شوی
د ا فغا ن ښکلی وطن چي په لاس د اجنبي شو
وطنوالو ا فغا نا نو له هډوکو چا ړه تیر دي
دخوشحال توره راواخلی چی غلیم موامریکایی شو
دغلیم پریکړه شنډ کړي د ملا لاسونه لنډ کړي
دخپل **مل** هیله ترسرکړی چی غوښتنه ضروری شو

******جرمنی 2019-12-17**